مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه جان هاجره حرکت
۲۰۲۳/۰۳/۳۰

# پسرلې

زما بڼ کې د سنځلې ګل غــوړیــږي
د ســهار سترګه یې وږم تــه زلـیـږي

مـړاوي زړونـو کـې نـوې سـاه پـوکـلـې
پورته غـرونو کې بیا غرڅنې زغلیږي

هـــوا ګـانـو تـازه ګـې راخـوره کـړې
په زوړ تن کې د ژوندون مستې خوریږي

د رنـګـونـو ولـولـې را رسـیدلـې
سهارنۍ پرخـه د ګل پـر مـخ وریږي

د ژوندون پـر اډانه مو یون ته اړ یوو
د بـدلـون پیغام ته زړونـه هـوسیـږي

بې حـالۍ او په سستۍ کې به یې بایلو
خو شکونه مو پر ذهـن لاس بـریـږي

که لیمو کې په نم، نم مینه راتوې کړي
تنـسـتـه خو به یې ژر پـیـاوړي کـیـږي

لنډه لار مو ده د تګ په منډه درومو
چې وي موخه یې سپیڅلې نو رسیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ